## د عامو پورونو د اصطلاحاتو تعریف

### قسط بندي

د پور قسط بندي هغه مهالویش ته ویل کېږي چې د وخت په تېرېدو د منظم تادیاتو له لارې پور ورکول کېږي. دا مهال ویش د سود کچې او مودې پر بنسټ ټاکل کېږي. د قسطبندي جدول یا مهالویش ښایي چې د هرې تادیې څومره برخه د اصلي پور او څومره برخه د سود لپاره ورکول کېږي او پور به څه وخت بشپړ ادا شي. ځینې پورونه داسې شرطونه لري چې د قسط بندي مهالویش څخه لنډ وي، چې دې معنا لري کله چې پور پای ته ورسېږي یا خلاص شي، لا هم به د اصلي پور یوه برخه پاتې وي.

**د ورکړې وړ حسابونه :**

د ورکړې وړ حسابونه د هغو ټولو پورونو ټولیزه مجموعه ده چې یو کاروبار یې نورو ته د وړاندې شویو خدماتو یا توکو په بدل کې ورکوي. دا پورونه لا نه دي تادیه شوي او د لنډمهاله مالیاتي مکلفیتونو په توګه ګڼل کېږي. دغه حسابونه په بیلانس شیټ کې د پور په توګه ښکاري چې نورو کاروبارونو یا ادارو ته ورکول کېږي.

**د ترلاسه کیدو وړ حسابونه :**

د تر لاسه کیدو حسابونه د هغو ټولو پورونو ټولیزه مجموعه ده چې پیریدونکي یې د وړاندې شویو خدماتو یا توکو په بدل کې یو کاروبار کوونکي ته ورکوي، خو تر اوسه یې نه دي تادیه کړي. ځکه چې لا هم پیسې نه دي ترلاسه شوې، دا پورونه د کاروبار لپاره د اوسنۍ شتمنیو په حساب کې ثبتېږي، ځکه چې تمه کېږي چې دغه پیسې به ژر ترلاسه شي.

**شتمني:**

شتمني د هغې توکي په معنا ده چې د یو شخص یا کاروبار لخوا په ملکیت کې وي او مثبت مالي ارزښت ولري. شتمنۍ مختلف ډولونه لري؛ ځینې شتمنۍ محسوسې دي لکه ځمکه، موټر، وسایل، یا ذخیره، او ځینې نا محسوسې دي لکه فکري ملکیت. شتمنۍ د پور تضمین لپاره کارېدلی شي.

**بیلانس شیټ:**

بیلانس شیټ یو مالي راپور دی چې د یو کاروبار یا سازمان شتمنۍ او پورونه په ټاکلي وخت کې لنډیز کوي. د ټولیزو شتمنیو او ټولیزو پورونو ترمنځ توپیر د برابرۍ یا خالص ارزښت په نوم یادېږي.

د کاروبار سلاکار /مشاور:

د کاروبار سلاکار هغه کس دی چې د کاروبار پلان، د بازار موندنې پلان، مالي وړاندوینې، او ورته نورو مواردو په کار کولو کې مشوره یا روزنه ورکوي. دوی د مالي مدیریت غوره لارو چارو، میتودونو، او وسایلو په اړه تخصص وړاندې کوي. د کاروبار سلاکار کولای شي د پور لپاره د غوښتنې وړاندې او وروسته هم مرسته وکړي.

**تضمین:** شتمنۍ یا ملکیت چې پور اخیستونکی د پور د تضمین لپاره پور ورکونکي ته وړاندې کوي. که پور په ټاکلي وخت تادیه نه شي، پور ورکوونکی کولای شي دغه شتمنۍ ترلاسه کړي.

**کریډیټ کارت:**

یو کارت چې مالیی ادارات یې صادروي او تاسو ته اجازه درکوي چې له مخکې ټاکل شوي حد پورې د پیسو پور پرې واخلئ ترڅو توکي یا خدمات پرې واخلئ. د پور اندازه ؛ د کارت صادروونکي اداره د کریډیټ تاریخچې او نمرو پر بنسټ ټاکي.

**د بشپړ وخت معادل کارکوونکی:**

د یو بشپړ وخت دنده چې لږ تر لږه 30 ساعته کار په یوه اونۍ کې شامل وي، د یو FTE په معنا دی.

**خام عواید** :

هغه ټول عواید چې د یو کاروبار د اصلي فعالیتونو له لارې د توکو یا خدماتو د پلور څخه ترلاسه کېږي، له دې مخکې چې لګښتونه لکه د توکو بیه، اصلی قیمت او نور ترې کم شي.

**د سود کچه**:
هغه سلنه چې د پور د اصلي مبلغ یا موجوده توازن پر اساس د پور ورکوونکي ته د تادیې برخه جوړوي. دا د سلنې (%) په توګه ښودل کیږي او د پور اخیستلو قیمت دی. VCLF یوازې (ثابته) د سود کچه لري، یعني د پور په موده کې به د سود کچه بدله نه شي.
**پورونه:**
مالي مکلفیت یا پور چې باید تادیه شي.
**لیین :**
یو قانوني دعوه د ملکیت په اړه چې پور ورکوونکی یې د پور په وړاندې د تضمین په توګه ترسره کوي. تر هغه چې پور تادیه شي، پور ورکوونکی د ملکیت دعوه ساتي او د پور د پاتې کېدو په صورت کې یې ترلاسه کولای یا خرڅولای شي.
**د کریډیټ اندازه:**
یو ټاکلی مقدار کریډیټ چې پور ورکوونکی یې پور اخیستونکي ته د ترلاسه کولو په خاطر ورکوي ترڅو د اړتیا پر وخت ترې استفاده وکړي. پور اخیستونکی یوازې د اخیستل شوي مبلغ پر اساس سود ورکوي او کله چې ټول مقدار تادیه شي، بیا کولی شي تر ټاکلي حد پورې پور واخلي.
**د پور د اسنادو فیس :**
یو ځل فیس دی چې د پور د اسنادو د چمتو کولو او پروسس کولو لګښتونه تنظیموي.
**د پای نېټه:**
هغه نېټه چې په هغې د پور یا د کریډیټ اندازې پاتې ټولې پیسې تادیه کېږي.
**ګروي:**
یو قانوني تړون چې پکې مالي اداره پور ورکوي او د پور د تضمین په توګه د ملکیت اندازه ترلاسه کوي. پور ورکوونکی یو ټاکلی مقدار پیسې پور اخیستونکي ته ورکوي چې د سود سره په ټاکلې موده کې یې تادیه کوي. عامه د ګروی لیکونه 30 کلنې مودې لري، خو ځینې 10 څخه تر 25 کلونو پورې وي.
**خالص عواید:**
د ټولو عوایدو مجموعه چې له هغې د لګښتونو اندازه کمیږي.
**د پور د پیل فیس:**
یو ځل فیس دی چې پور ورکوونکی یې د نوي پور د پروسس د لګښتونو لپاره ورکوي. دا اکثره د پور د مقدار د سلنې په توګه ښودل کیږي او د پور د پای ته رسېدو پر مهال اخیستل کیږي.
**د مالک پیسې :**
کله چې د کاروبار مالک د خپلې شخصي استفادې لپاره د کاروبار له پیسو څخه څه برخه وباسي.
**د شخصي شتمنۍ خالص ارزښت :**
د یو شخص مالي شتمنۍ یو ډول اندازه ده چې د ټولو هغو توکو د ارزښت د زیاتولو او د ټولو پورونو د کمولو له لارې محاسبه کیږي.
**شخصي تضمین :**
د پور ورکوونکي او پور اخیستونکي ترمنځ د لاسلیک شوي تړون په شکل یوه قانوني ژمنه؛ چیرې چې که پور تادیه نشي، هغه نفر چې شخصي تضمین کړی هغه به د پور د پاتې پیسو مسؤلیت په غاړه اخلي. که پور اخیستونکی په تادیه کولو کې پاتې راشي، هغه نفر چې په شخصي توګه تضمین شوی او تضمین یې کړی د پور بیرته ورکولو مسؤلیت لري ځکه چې دوی د خپلې شخصي شتمنۍ ژمنه کړې او ژمنه یې کړې چې پور به په غاړه واخلي. پور ورکوونکي ممکن د سوداګرۍ مالکینو څخه وغواړي چې د پیسو د

خوندي کولو په خاطر شخصي تضمين چمتو کړي او داډ ترلاسه کړي چې که چیرې یو سوداګر په خپل پور کې پاتې راشي نو پور به بیرته ورکړل شي.

**اصلي پور:**

هغه اصلي مقدار پیسې چې د پور له لارې اخیستل شوې وي. کله چې پور تادیه کیږي، د اصلي پور پاتې مقدار یا توازن کمیږي.

**د عوایدو او زیان راپور:**

همدارنګه د عوایدو راپور په نوم یادیږي. دا مالي راپور د ټاکلې مودې (عموماً کال یا ربع) لپاره د عوایدو او لګښتونو لنډیز وړاندې کوي.

**اټکل شوی نقدي جریان:**

دا د یوې سوداګرۍ لپاره د ټاکلې مودې په جریان کې د راتلونکو نغدي تحرکاتو اټکلونه دي. دا اټکلونه د اوسنیو مالي معلوماتو پراساس وړاندې کیږي، چې د نغدو پیسو د داخلیدو او خارجیدو وړاندوینه کوي. د داخلیدو بهیر هغه پیسې دي چې تمه کیږي سوداګري یې ترلاسه کړي، په داسې حال کې چې خارجي بهیر هغه پیسې دي چې اټکل کیږي سوداګري به یې مصرف کړي. د دې نغدي حرکتونو وړاندوینه هم په تاریخي معلوماتو او مراحلو پورې اړه لري.

**د پیر د مالي تمویل امر:**

یو لنډمهاله مالي اختیار چې پکې مالي اداره یا پور ورکوونکی د یو مشخص پیر د پوره کولو لپاره پانګه برابروي او امر ورکوي ترڅو کاروبار خپل عرضه کوونکي تادیه کړي او د تولید لګښتونه پوره کړي تر څو پیریدونکي د مالونو یا خدماتو بیه ورکړي.

**د پور د شرایطو بدلول/ بیا جوړول:**

د پور اخیستونکي او پور ورکوونکي ترمنځ د موجوده پور تړون شرایطو بدلول، چې عموماً د مالي ستونزو د حل لپاره او د پور تادیه کولو او یوه پایدار پلان جوړولو په موخه ترسره کیږي.

**د منابعو او لګښت بودیجه:**

یو مالي وسیله چې د یوې ځانګړې پروژې یا مودې لپاره عواید او لګښتونه بیانوي. هدف یې دا دی چې وښایي سرچینې له کومه ځایه راځي او کاروبار به پیسې په څه باندې مصرف کړي.

**نوی کاروبار:**

یو شرکت چې د عملیاتو په پیل کې دی او هڅه کوي د خپلو پیریدونکو لپاره یو تولید جوړ کړي او خدمت ترسره کړي.

**فرعي پوروونه:**

هغه پور چې د تادیې په مهالویش کې د نورو پورونو په پرتله ټیټ لومړیتوب لري، په ځانګړي ډول د کاروبار د مالي ستونزو یا تصفیې په حالت کې.

**فرعي شرکتونه/همکاران:**

فرعي شرکت هغه وخت وي کله چې بل شرکت (چې د (مور/اصلی) یا(مالک) شرکت په توګه پیژندل کیږي) د فرعي شرکت له ټولو ونډو څخه له ٪۵۰ زیاتې برخې ولري. همکاران هغه وخت وي کله چې مور شرکت په اړوند شرکت کې (د ٪۵۰ څخه) کمه ونډه ولري.

**موده او د مودي پور :**

موده یو ټاکلی وخت دی چې د پور ورکوونکي لخوا ټاکل شوی وي. مودي پور د یوې ټاکلې مهالویش سره تادیه کیږي او د ثابت سود کچه لري.

**کاري پانګه :**
د پیسو یوه مجموعه چې د عملیاتي اړتیاوو لکه د ذخیرې مدیریت، معاشونو، او نورو لنډمهاله مالي مکلفیتونو لپاره کارول کیږي.